


نن سحر د چُھټۍ په ورځ ټول خلک په
محلت کښې راټول وو- ګل کاکا، خان جي
او ډاکټر اظهر خپلو کښې خبرې کولې-
نایاب مامي هم ورسره ولاړه وه-



نایاب مامي ووې، مونږ د محلت په سر کښې یو غټ ور لګول غواړو- علي تپوس وکړو، د څهٔ د پاره؟ مامي ووې، چې خلک هم په امان شي او باغ مو هم خراب نهٔ شي- دغه شان به مونږ ټول په امان شو-



خان جي غټ ور د محلت نمر خاتهٔ اړخ ته
لګول غوستل او ګل کاکا قبلې اړخ ته-
هغوي نهٔ د يو بل خبره منله او نهٔ د بل چا- د
مسئلې هيڅ حل نهٔ ښکارېدو-



قبلې اړخ ته لوی سړک او نمر خاتهٔ ته بازار
او سکول دے- ګل کاکا خبره نهٔ منله- په دې
کښې عابده ترور راغله- نایاب مامي ورته
ټوله خبره وکړه- هغې ډېر په غور واورېده-



عابدې ترور ټولو ته ووې چې نمر خاتهٔ طرف ته غټ ور لګول پکار دي- داسې به د ماشومانو د سکول لار اسانه شي- او لږه موده پس لږې پېسې را ټولې کړئ نو بل طرف ته به يو وړوکے ور هم ولګوئ-



د ټولو د عابدې ترور خبره خوښه شوه او وې وئېل، واه واه! خان جي او ګل کاکا یو بل ته ورتر غاړه شول- عابدې ترور خبره سمه کړه- ټولو ووې راځئ چې په کار لاس پورې کړو-



ماشومانو چې دا واورېدل نو د خوشحالۍ نه
ئې لاسونه پړقول- د هغوي د سکول لار ډېره
اوږده وه او اکثر به ناوخته شو- اوس د ور د
لاسه لاره لنډه شوه او په وخت سکول ته رسي-



**بنیادي سوال**

د یوې سیمې وسیدونکي خلک خپلې مسئلې څنګه حل کوي؟

## د لوستلو صلاحیتونه او حکمت عملۍ

| | |
|---|---|
| غږ پوهنه : | حرکات : زېر، زبر، پېښ |
| د ټکیو پنګه: | محلت، راټول، امان، نمر خاتهٔ، مسئلې، ښکارېدهٔ. صلاګانې، اسانه، ناوخته، لنډه |
| ژب داني: | بامعني او بې معني ټکي |

## لېولډ رېډر

په یو کلاس کښې د لوستلو د صلاحیت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مینځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحیتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ رېډر په نوم مختلفې قیصې لیکلې شوي دي- د دې لېولډ رېډر متن په رو رو سېوا کړے شوے دے- د لېولډ رېډرز بنیادي مقصد ماشومان خپلوا که لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ رېډر 8 سېټونه تیار کړي شوي دي- د هر لېولډ رېډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر یو لېولډ رېډر په شاتني مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

د وړومبیو دریو مخونو نه پس لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. د قیصې په شروع کښې څۀ کېږي؟
2. نایاب مامي ماشومانو ته څۀ ووئېل؟

د نیمې قیصې نه پس لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. په دې ټکیو باندې "زبر، زبر او پېښ" ولګوئ او ولوئ-
   چتې، ګل، غټ
2. نایاب مامي خلکو ته څۀ مشوره ورکړه؟

د قیصې په اخره کښې لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. عابدې ترور مسئله څنګه حل کړه؟
2. د دې قیصې نه څۀ سبق ملاوېږي؟
3. قیصې په خپلو ټکیو کښې واوروئ؟

www.pakreading.org


This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده- دا مواد یو ایس ایډ- پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس ایډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-